لیکوال : بروس ریچاردسن
ژباړه : رحمت آریا مې ۲۰۱۰

د تیلو، پیسو او ځواک په لټه کې

لندیز : د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو له پرځېدا تر اوسه نیږدې دوې لسیزې تیریږي، د شوري له پرځېدا سره جوخت د قطبي شوي نړۍ هغه وروستی څپرکی هم درې وړې شو چې دوه وو په ایدیالوژۍ او په پرمختللو پوځي وسلو سمبالو مخالفو زبرځواکو په دوه وو برخو ویشلې وه.

هماغسې چې د تأریخ د پاڼو پرمخ د بې شمیرو ستروا کیو په حق کې پیښ شوي د شوروي اتحاد نړیدنه هم د ۱۹۸۰ز لسیزې په پای کې خپل حتمي پړاو ته ورسیدله. د سړې جګړې په لړ او د امریکا له متحده ایالاتو سره په کلکې دښمنۍ کې د شوروي اتحاد د اقتصادي بدنې له رګو څخه وینې په بهیدا شوې ، شوروي ځواک د وسلو د ناپایه سیالۍ د مالي ستنې د پیاوړې کولو په لاره کې نور د کړکیچ د ګړنګونو پر ژۍ درېدلې وو.

د شوروي اتحاد له پرځېدا سره سم له واشنګټن پرته د نړۍ په هر ګوټ کې د خوښۍ انګازې خپرې شوې. د امریکا د متحده ایالاتو د اکثریتو دولتي مأمورینو غبرګون له وحشت او ترهورۍ سره ملګری یو غبرګون وو. د امریکا وابښې او وانې ځکه تښتیدلې وې چې له شوروي میرځمن پرته به ددومره جوړو شویو وسلو له زیرمو، د راټول شوي څارګر لښکر له مأمورینو سره چې لړۍ بې له سي آي اې پیل د ملي امنیت تر ایجنسۍ، د وسلوال ځواک تر څارګرې اداري او نورو پورې غځېدله څه وکړي او د هغوی د شتون د حقانیت لپاره به څه کوي؟ په دغه وخت کې ولسمشر جورج ایچ ډبیلو بوش هم د امریکا د سړې جګړې د ملي امنیت محصول او شکل ورکوونکی وو. له ولسمشر بوش نیولې د هغه تر وروستیو ځای نیونکو پورې ټول دداسې یوې نړۍ محصول ول چې په خپلو هیندارو کې بې د جاسوسۍ، پټو کړو وړو او " ددښمنۍ انځور" لیده، هغوی لا تر اوسه په هماغه پخواني خوی او بوی دي، د امریکا د سیاستوالو نړۍ هغه نړۍ وه چې په هغې کې بې د " ملي امنیت" تر نامه لاندې د هیواد اساسي قانون، نړیوال پروتوکولونه او کنوانسیونونه تر پښو لاندې کول. کټ مټ د شوري ددولت د ختې او تومنې په شان چې د خپلې څو ملتیزې دفاعي ستراتیژۍ او د انرژۍ د سرچینو د توندې په سکروټو کې پولې پولې شودلته هم د دولت په منځ کې بل داسې موازي دولت په چلیدو وو چې هر څه او هر ګام بې د مرکزي کړۍ د کنترول د مقناطیس پر شپول راڅرخیده، دلته د شوروي د سیاسي بیرو په شان، ددولت همکارو او همغږو ادارو د هماغه دولت د سیاسي بیرو بڼه غوره کړې وه. د امریکا د پوځي قراردادونو جړه د امریکا د اقتصاد له هرې جړې سره تړل شوې وه ترڅو په راتلونکې کې د دایمي جګړې ماشین ورباندې جوړ کړي.

د شوروي اتحاد له پرځېدا وروسته د نړۍ د هژمونۍ یوازینی میراث امریکا ته پاتې شو، اوس د امریکا متحده ایالات ددغې لارې په اوږدو کې له دوه وو با ا لفعلو ستراتیژیو سره مخامخ ده. یوه لاره دا ده چې امریکا دې د سړۍ جګړې پخواني سیال او میرځمن ته چې اوس له اقتصادي اړخه درې وړې دی د اقتصادي دوستۍ تر نامه لاندې لاس ورکړي او ښې اقتصادي اړیکې دې ورسره ټینګې کړي. بله لاره دا ده چې د امریکا تر مشرۍ لاندې لویدیځه نړۍ باید وهڅول شي چې د سړې جګړې د هستوي تعادل د ترهې او کړکیچ په راټیټولو کې ګام اوچت کړي او د هستوي لګښتونو پانګې دې د ملکي ژوندانه د سکتورونو د پیاوړې کولو او بډایولو په لاره کې په کار واچوي ترڅو شته ملکي او ټولنیز بې وزلې اقتصادي بنسټونه ورباندې له سره ورغول شي.

هماغسې چې مسکو د وارسا تړون ړنګ کړ د امریکا متحده ایالاتو ته هم اړینه وه چې د ناتو تړون بې ړنګ کړای وای ښایي ددغه تړون له ړنګیدا سره سم د اقتصادي همکاریو یو ښیرازه چاپیریال رامنځته شوی وای او ایرو- ایشیا ته به بې نوې بڼه ورکړې وای او په ډاډ ویلای شم چې دلته به د نړۍ ستر ښیرازه اقتصادي زونونه رامنځته شوي وای.

خو امریکا له سړې جګړې سره په لاس او ګریوانتیا کې بله لاره غوره کړې وه. د جګړې پلمې د امریکا د نړیوالې اجندا د منطق په منځټکي کې له ورایه ښکاریدلې، چې په ټولیز ډول یوه جغرافیوي اجندا وه. په نړۍ کې یوازینې زبرځواک د پټوکړو وړو، چلوټو، درواغو او جګړې له لارې غوره بلله چې د ایرو- ایشیا زړه له پوځي لارې تر کنترول لاندې ولري .هغو ډلو او ګوندونو چې پنټاګون، پوځي صنعتي بنسټونه، ددویمې درجې بې شمیره قراردادیان او دهالیبرتون د تیلو د کمپنیو په څیر د تیلو سترې کمپنۍ بې تر څار او کنترول لاندې نیولې وې ټینګار بې کاوه چې سړه جګړه پای ته نه ده رسیدله اوله ډیریو امریکایانو څخه ژوندي حقایق پټ ساتل کیدل. د ۲۰۰۱ زکال د سپتامبر تر

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یولسمي نېټې پورې " نوي سړي جګړې" بیلابیلې پټې بڼې او له چلوټو ډک تاکتیکونه غوره کړي ول. دغو پیښو د امریکا یوه ولسمشر ته دا وړتیا ور په برخه کړه چې دداسې یوه دښمن پر وړاندې یوه تلپاتې جګړه اعلان کړي چې هېڅ چیرې او هر چیرې موندل کیدای شي، داسې یو دښمن چې د چا خبره امریکایي ژوند بڼه بې تر ګواښ لاندې نیولې وه، دغو پیښو ولسمشر ته دا وړتیا ورکړه چې د ترهګرې پروړاندې د نړیوالې جګړې تر نامه لاندې هغو قوانینو ته بدلون ورکړي چې ګڼې د امریکایي ژوند بڼې د ویجاړولو لامل شوي ول .د همدغې موخې د پلې کیدا لپاره د پنتاګون د قبلې لمونځ کوونو ته د ۲۰۰۱ زکال د سپتامبر په مباشت کې اسامه بن لادن ښه ځواب وو. و ګورئ [لمنلیک[1]]

په ۱۹۸۹ز کال کې د برلین د دیوال له نړیدا وروسته له دولت سره د همغږو او همغاړو رسنیو او د صنتعي شرکتونو د ځواک او د کنترول د پالیسۍ له شامته ، پنتاګون د ټولې نړۍ د نیواک لپاره داسې یوه ګام په ګام او له احتیاطه ډکه ستراتیژي تر لاس لاندې ونیوله چې یوازې ډیر لږ کسان ور باندې خبر ول، سره له دې چې د تأریخ ډیرو زبر ځواکونو دغه لاره ازمویلې خو د نړۍ هېڅ زبر ځواک دغې موخې نه دی رسیدلې . د پنتاګون د سیاست په دالانونو کې یوه اصطلاح خوله په خوله کیدله چې " د بشپړ طیف سوبه " نومیدله، د دغې اصطلاح له ظاهري بڼې څخه ښکاري چې دوی غوښتل د نړۍ په هرګوټ کې پر هر څه باندې د کنترول ولري.

د ۲۰۰۱ زکال د سپتامبر د یولسمې نېټې پیښې ددغې موخې له هینداري څخه دوړې لیرې کړې ، د پیښې په هماغو لومړیو مباشتو کې وه چې د امریکا ۴۳ ولسمشر بوش پیښه د یوې پلمې په توګه وکاروله او د " ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې" تر نامه لاندې بې د اسلام پر وړاندې جګړې ته لاس واچاوه. خو ډیرو نړیوالو څارګرو ادارو پر دغې انګیرنې ډډه ولګوله چې د ۲۰۰۱ زکال د سپتامبر د یولسمې بریدونه د " غلط بیرغ " عملیات ول. دغه بریدونه ترهګر بریدونه ول، او له بڼې بې ښکاریدل چې دا د دښمن یا د کوم مخالف کار دي، د څارګرو اصطلاحاتو په منځ کې دغه ډول بریدونو ته د " غلط بیرغ" عملیات وایي. د څارګرو ادارو په اصطلاحاتو کې د غلط بیرغ عملیات هغه پټ عملیات دي چې د دولتونو، شرکتونو او یا نورو بنسټونو له خوا په داسې بڼه پلې کیږي چې ظاهراً له دولته پرته د نورو بنسټونو له خوا پر مخ بیول کیږي . دغه نوم د غلطو رنګونو د راپورته کولو له پوځي اصطلاح څخه اخیستل شوی دی چې د خلکو د غولولو لپاره د خپل هیواد د بیرغ د پورته کولو پر ځای د نورو بیرغونه پورته کوي. د " غلط بیرغ د عملیاتو" بیلګې په هیواد کې د کانګرس هغو غړو او رسنیو ته د ډاګ یا پوستې له لارې په انترکس د ککړو لیکنو لیږل ول چې له جګړې سره مخالف ول. هغوی د انترکس د وژونکو لیکونو د برید دغه پړه په لومړیو کې د صدام حسین پر غاړه په داسې یوه وخت کې واچوله چې د بوش اداري پرعراق باندې د امریکا د برید لپاره د ولس د ملاتړ د را خپلولو لوڅې پوڅې کولې. خو کله چې د انترکس د سرچېنې د موندنې پلټنه وشوه نو څټه بې په مریلند کې د امریکا د متحده ایالاتو د پوځ له یوه لابراتوار څخه راوختله. بله پلمه د احمد شاه مسعود وژل ول چې امریکا، شمالې ټلوالې، روسېې او د دوی دولت پلوو بې څښتنو رسنیود طالبانو / القاعدې عملیات وبلل. خو د نویو مالوماتو تر رڼا لاندې اوس داسې ښکاري چې د مسعود وژنه د مسعود د منځنۍ کړۍ د هغو نیږدې کسانو ماره وه چې له مسعود څخه په قهر شوي ول ځکه مسعود په پټه له طالبانو سره د واک د ویشنې د خبرو پر سر سلا شوی وو او دوی بې له دغو خبرو اترو لېرې پریښودلې ول، ډیره شونې ښکاري چې د مسعود د وژنې تابیا د همدغې کړۍ له پلوه مخکې له مخکې جوړه شوې وي. و ګورئ : [لمنلیک [2]]

نړۍ لید : یو روسی شننونکی په خپله شننه کې وایي چې له ۲۰۰۱ز کال وروسته د امریکا متحده ایالاتو په افغانستان کې د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې تر نامه لاندې خپل بنسټ کښېښود او دده په وینا د امریکا متحده ایالاتو او ناتو " د خپل پوځي، جیو ستراتیژیک، جیو پولتیک او جیو ایکونومیک پل د ایرو ایشیا په زړه کې ښخ کړ، په افغانستان، په ټولې منځنۍ او ختیزې آسیا کې بې د پیاوړو پوځي اډو او ځالګیو بنسټونه جوړ کړل" نوموړی روسي شننونکی زیاتوي :

" د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې له نامه څخه د یوې پلمې په توګه کار اخیستل کیږي چې تر دغه نامه لاندې په سیمه کې د ناتو او د امریکا د متحده ایالاتو پوځي او تشکیلاتي ماشین جوړ او خپل ناپایه او نا څرګنده حضور ژوندی وساتي." و ګورئ : [لمنلیک [3]]

---

[1] . (See: Jeremy Scahill, American Hypocrisy, *http://coldtype.net*)

[2] . (See: Wayne Madsen, *Jaded Tasks, Blood Politics of George Bush & Co.*,Oregon, Trine Day Publishing, 2006, pp. 25-27, 35-48.)

[3] ". (See: Yuri Kupronov, 'The Path to Peace and Concord in Afghanistan. The Problem of Afghanistan for Russia and the World', Russian Institute for Demography, Migration and Regional Development, Moscow, March 10, 2008.)

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

[ورفسنگسکتز[4]] د ۲۰۰۱ ز کال د سپتامبر له یولسمې نېټې وروسته رسنیو ته وویل : " ددغو بریدونو د پلانولو، او د فرضي ورانیو پراخوالی کلونو کلونو ته اړتیا لري چې پلان شي." [ورتابچ [5]] وویل : " ددغسې پیچلو عملیاتو پلي کول د یوه دولت د څارګرې اداري د " پلانولو" په بنسټ کې جوړیدای شي نه د یوې " ګډ وډې" ترهګرې ډلې په منځ کې چې د بیلګې پړه یې د محمد عطا تر مشرۍ لاندې په یوې ډلې واچول شوه، عطا په خپله هامبورګ کې خپله زده کړه کوله. په داسې عملیاتو کې باید ډیر کسان ښکیل وي؛ ورتابچ هغو افشا شویو شواهدو ته ګوته نیسي چې ګڼې دغه بریدونه د " دولت سمبال شوي اقدامات" ول.

[اندریاز وان بیولو [6]] د جرمني د ولسي جرګې په کمیسیون کې کار کاوه ، کمیسیون د جرمني د څارګرې اداري پر دریوو پټو خدماتي څانګو څارنه کوله، هغه له ۱۹۶۹تر ۱۹۹۴ ز کال پورې د [بوندستګ [7]] یا د جرمني د پارلمان غړی وو. وان بیولو [امریکن فري پرس [8]] رسنۍ ته وویل چې دده په ګومان د اسرائیلو څارګره اداره [موساد [9]] او [سي آی ای] د ۲۰۰۱ ز کال د سپتامبر د یولسمې نېټې د بریدونو تر شا لاس درلود. و ګورئ [لمنلیک[10]]

د " ترهګرۍ پر وړاندې" د امریکا په لاره اچول شوې " جګړه" په نړیواله کچه چا ته د منلو وړ نه شوه. د بېلګې په توګه د جرمني او هسپانېې محکمو چې د جنګي جنایاتو پر وړاندې د نړیوال قضائـي هیـئـت د قلمرو دعوی کوي دواړو، د ولسمشر ډبلیو بوش، د هغه د مرستیال دیک چیني، د امریکا د بهرنیو چارو د وزیرې کونډا لیزا رایس، کولین پاول او د امریکا د دفاعي چارو د وزیر دانلد رمز فیلد د نیولو حکمونو ورکړي دي او تور یې لګولی چې د سپتامبر د یولسمې پیښې پر وړاندې د امریکا په غبرګون کې ددوی ونډه د پوښتنې وړ ده.

د " غلط بیرغ" د عملیاتو د ساز او ساخت پر بنسټ او په یوې تلپاتې جګړې کې د ښکیل هیواد په توګه د تیلو د پلټلو او د شرکتي ګټو د ترلاسه کولو لپاره ، امریکایي حماسې ملي هیوادنۍ کرښې ماتې کړې ، د خپلواکۍ خیټه یې و څیرله او د څه د باندې یو میلیون افغانانو او عراقیانو د ژوند ډیوه یې مړه کړه.

بروس ریچاردسن

---

[4] *Verfassungsschutz,*
[5] Werthebach
[6] Andreas Von Bulow
[7] *Bundestag*
[8] American Free Press
[9] Mossad
[10] (See: Christopher Bollyn, *"Euro Intel Expert Dismiss 'War on Terrorism' as Deception", American Free Press, December 4, 2001).*

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ